دويمه کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# پوکانۍ ولې ګردې وي؟




**ليکوال:** سوکانيا سنها
**انځورګر:** سواپنيل کپور


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

غبرګوني هما او همیم له ښوونځي څخه کور ته پر لار روان وو.
د ترافیکي اشارې په ځای کې، هغوی یو سړی ولید چې د پوکاڼۍ جوړولو توکي یې پلورل. هغه یوه پلاستیکي نلکۍ په یوه بوتل کې ډوبه کړه، بېرته یې راوویسته او پوکۍ یې پکې وکړ.

د پوکاڼیو یوه لړۍ په هوا کې خپره شوه. ځینو
یې د بوډۍ ټال یا د رستم لیندۍ رنګونه
منعکس کول.



هغه نعره وکړه، ”لس افغانۍ!“. رڼا شنه شوه او بس روان شو.



همیم په همغه ماښام د ماښام ډوډۍ پر مهال وویل، ”مورجانې، آیا کولای شو مونږ د پوکانۍ جوړولو توکي راونیسو؟“

مور وویل، ”تاسې کولای شئ دا په کور کې جوړ کړئ. ولې یې سبا ته نه ازمایئ؟“



هغه شپه همیم او هما په خوب کې پوکانۍ ولیدلې.





بل سهار، هما په یوه کوچني سور سطل کې شامپو له اوبو سره ګډه کړه. هغې دا باغچې ته له ځان یوړ.

همیم د پلار د اوزارونو په صندوقچه کې د تارونو یو څو ټوټې پیدا کړې. هغه د یوه تار یو سر تاو کړ تر څو په یو سر کې یوه کوچنۍ دایره جوړه شي.

هغه سیخ په صابوني اوبو کې ډوب کړ او په دايره کې يې پوکۍ وکړ.

هغه قوي پوکۍ وواهه. خو هیڅ پوکانۍ جوړې نه شوې.





”داسې پوکۍ ووهه“، هما ووېل، او هغې په نرمۍ سره په دايره کې پوکۍ وواهه. هيڅ پوکانۍ و نه وتلې. هميم بيا هڅه وکړه.

”واه واه“، هغوی په هوا کې د ګردو پوکانيو د لړۍ خپرېدل په ليدو سره چېغه کړه. کلفي سپی د هغوی څنګ ته ورغلو او په غپېدا شو.



هما وویل، ”زه یو بل ډول د پوکانۍ پو کوونکی جوړوم.“ هغې د خپل سیخ سر تاو کړ او په یو مربعې شکل یې واړاوه.

هغې وویل، ”په شرط یې وایم چې زما پوکانۍ به د صندوقونو په څېر ښکاري!“



”راځه چې نور شکلونه هم جوړ کړو،“، همیم غږ وکړ.

همیم د ستوري په بڼه او د مثلث په بڼه شکلونه جوړ کړل. هغه د بېلا بېلو شکلونو پوکاڼیو لیدلو ته هم لېواله و.



غبرګونو ولیدل چې کلفي په پوکانیو پسې منډې وهلې. دا ټولې پوکانۍ ... ګردې وې.
څومره د تعجب خبره ده!



”مورې، مونږ د بېلا بېلو شکلونو پوکانيو جوړولو هڅه وکړه، خو دا ټولې ګردې دي! “، هما شکايت وکړ.

زينب ترور، د دوی ګاونډۍ، چې د دوی له مور سره په خبرو بوخته وه، وويل، ”ګرد يو ځانګړی شکل دی.“ هغې په ښار کې د ساينس په موزيم کې دنده ترسره کاوه.




”کله چې مونږ پوکانۍ جوړوو، مونږ د پوکانۍ په پوښ کې هوا پو کوو. د پوکانۍ پوښ، کله چې ګرد وي، تر ټولو کم کش کېږي. که دا په بل کوم شکل وي، شکل باید ډېر زیات کش شي تر څو په هماغه اندازه هوا وساتلای شي. پوکانۍ دا کار نه خوښوي“، زینب ترور زیاته کړه.

”پوکانۍ لټانې دي! هغوی کش کېدل نه خوښوي!“، همیم په لوړ غږ وویل. هغه په منډه ووتو چې له هما سره نورې پوکانۍ جوړې کړي.

# صنفي فعالیتونه


**تاسې څنګه د صابون پوکانۍ جوړوئ؟**

په یوه پیاله کې لږ مایع صابون یا شامپو واچوئ. د صابوني محلول جوړولو لپاره پکې لږې اوبه ورزیاتې کړئ. دا باوري کولو لپاره چې دا محلول ډېر اوبلن نه شي، اوبه لږې لږې واچوئ.



د سیمي مزو ټوټې راواخلئ. په بېلا بېلو شکلونو یې تاوې راتاوې کړئ. چوکاټ په صابوني محلول کې ډوک کړئ. بیا پورته یې ونیسئ. وګورئ چې څنګه د صابون پرده په چوکاټ پورې نښلي چې د چوکاټ په شان یوه مربع، دایره یا مثلث جوړوي.

د پوکانیو جوړولو لپاره د صابون پرده باندې په نرمۍ سره پوکی وکړئ. کله چې پوکانۍ له چوکاټ څخه جلا کېږي، تاسې څه وینئ؟ د دوی پیل شاید په جلا جلا شکلونو وي، خو دوی تل ګردې (کروي) پوکانۍ جوړوي!



**خپل د رنګ بکسې څخه لږ رنګ راواخلئ. دا د پوکانۍ محلول سره ګډ کړئ. اوس د پوکانیو جوړولو لپاره پوکی وکړئ! دا په کومو رنګونو کې دي؟**

که تاسې په څمکه یاست، امکان لري چې ستاسې پوکانۍ به په جلا جلا رنګونو کې جوړې نه شي. دا چې رنګ درووند دی، دا رنګ د جاذبې/ثقل قوې په واسطه لاندې کش کېږي او د پوکانۍ په بیخ کې د یوه ټینګ کوچني څاڅکي په بڼه راټولېږي.

آیا تاسې فکر کوئ چې په صابوني محلول کې د طبیعي رنګونو، لکه د لبلبو یا چقندر اوبه، ګډول به ستاسې د پوکانیو رنګ ګلابي کړي؟ وې ازمایئ!

د یوې جاپانۍ ستورمزلې اوه کلنې لور له خپلې مور څخه غوښتنه وکړه چې معلوم کړي چې آیا هغه په خلا/تشیال کې رنګینې پوکانۍ جوړولای شي؟ مور د پوکانیو محلول سره د سرې مېوې یوه اندازه اوبه
ګډې کړې.او پوهېږئ څه وشول، هغې سرې پوکانۍ ترلاسه کړلې!

ولې؟ دا چې په خلا کې د جاذبې قوه نشته دی، د رنګ ماده د پوکانۍ په بېخ کې راټوله نه شوه.



## پوکانۍ ولې چوي؟

پوکانۍ د هوا یوه کڅوړه ده چې ډېر نرۍ پوښ لري. دا پوښ له درې پوړونو څخه جوړېږي: صابون چې بهرنی پوړ جوړوي، اوبه چې منځنی پوړ جوړوي، او بیا صابون چې داخلي پوښ جوړوي. کله چې اوبه تبخيرېږي، پوکانۍ چوي.



## لارښودونکې پوښتنې

1. هما او همیم څنګه پوکانۍ جوړولې؟ هغوی څه شی استعمال کړ؟
2. ولې هما او همیم د بېلا بېلو شکلونو پوکانیو جوړولو کې پاتې راغلل؟
3. آیا تاسې کله په کور کې پوکانۍ جوړې کړې دي؟ آیا دا آسانه وو؟ تر ټولو غټ پوکانۍ څومره لویه وه چې تاسې کله جوړه کړې ده؟
4. ولې پوکانۍ په اسانۍ سره چوي؟
5. آیا ستاسې په اند پوکانۍ به په بهرنۍ فضا کې هغسې والوځي او وچوي لکه څرنګه چې په ځمکه کې وي؟